اې الله ! تاته مې غاړه اېښودلې، پر تا مې ایمان راوړی، پر تا مې توکل کړی، تا ته مې رجوع کړې او ستا لپاره مې شخړه کړې، اې الله ! زه د ستا په عزت پناه غواړم چې ستا پرته بل معبود نشته- لدې چې ما ګمراه کړې، ته هغه ژوندی ذات یې چې هېڅکله نه مري، حال دا چې پیریان او انسانان مري

د ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې رسول الله به ویل: «اې الله ! تاته مې غاړه اېښودلې، پر تا مې ایمان راوړی، پر تا مې توکل کړی، تا ته مې رجوع کړې او ستا لپاره مې شخړه کړې، اې الله ! زه د ستا په عزت پناه غواړم چې ستا پرته بل معبود نشته- لدې چې ما ګمراه کړې، ته هغه ژوندی ذات یې چې هېڅکله نه مري، حال دا چې پیریان او انسانان مري».

[صحیح دی] [متفق علیه دی او دا لفظ د مسلم دی، او البخاري مختصر روایت کړی دی]

د پېغمبر له دعاګانو څخه یوه دا وه چې ویل به یې: «اې الله ! تاته مې غاړه اېښودلې(او فرمان منونکی دې یم)، پر تا مې ایمان راوړی، باور لرم او اقرار کوم، پر تا مې توکل کړی؛ چارې مې درسپارلې او پرتا مې تکیه ده، او تاته مې رجوع کړې او درګرځېدلی یم او تاته مې مخ کړی (ستا لپاره مې جګړه کړې او ستا له دښمنانو سره مې دعوې کړې دي) اې الله ! زه ستا په عزت، ځواک او غلبې پناه نیسم -پدې چې ستا پرته بل حق معبود یعنې د بندګ وړ ذات نشته- له دې چې ما له سمې لارې ګمراه کړې او لدې چې راڅخه ناراضه شې، (ته تلپاتې ژوندی ذات یې چې نه مري او نه پناه کېږې، (حال دا چې انسانان او پیریان مري).

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3056